مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۴/۲۱

# پرانستې کړکۍ

مودې وشوې په دې ښار کې

ستا د ښکلو قدمونو آواز نشته

خو د ونو په شنو پاڼو

لاهم ستا د سپین بدن

نارنجي عطرونه نا څي

ها کړکۍ چې !

پیرۍ مخکې ستا لیدلو ته کوم چا وه پرانستلې

هغه اوس هم

هسې خلاصه ده زنځیر ور پورې نشته

کاشکې غږ کړې

څواب راکړې!

د دې سترې جهان کوم ځای کې اوسیږې

ایا اوس هم

د سیند کانو ته د زړه حالونه وایې؟





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ